مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۲۰۲۵/۰۱/۲۳

# د پاناما د کانال ستراتېژیک او سوداګریز ارزښت

د دوشنبې په ورځ د امریکا نوي ولسمشر، ډونالډ ټرمپ د ریاستي لوړې د مراسمو په مهمي وینا کي د کورنیو پلانونو او بهرنیو پالیسیو اړوند خپله تګلاره څرګنده کړه چي یوه یې د پاناما د ستراتېژیک او تجارتي کانال موضوع وه.




د امریکا د CNBC تلویزیون او ځیني خبري آژانسونه د ډونالډ ټرمپ له قوله کاږي: « دا کانال موږ پاناما ته ورکړی وو نه چین ته، خو هغوئ په خپلو ژمنو وفا ونکړه. موږ به پرېنږدو چي کانال په غلطو لاسونو کي پرېوځي. که چیرې پاناما د تړون د اخلاقي او قانوني بندونو مراعت ونه کړي، نو موږ به یې پرته له شکه د بېرته ترلاسه کولو غوښتنه وکړو».

له دې کوچني لاتیني هېواد څخه د هغه غوښتني او اندېښني د دریو لاملونو له مخي دي. لومړی دا چي دا کانال امریکایانو جوړ کړی او د ۸۵ کالو لپاره مالکیت یې د همدوئ په لاس کي وو. دوهمه اندېښنه دا ده چي د کانال ختیز او لوېدیز دواړه لوري د یوې چینایي کمپنۍ له خوا اداره او کنټرولیږي چي بالقوه ګواښ او سیال دی. دریمه موضوع د پاناما د هېواد له خوا په امریکایي بېړیو باندي د ګمرکي تعارفو او مالیو لوړوالی دی.

د انسانانو په لاس دا کیندل شوی کانال چي د نړۍ له لسو مهمو عجائبو څخه ګڼل کیږي؛ د جوړیدو نظریه یې په شپاړسمي پېړۍ کي د هسپانوي تولواک له اړخه وړاندي شوې وه. بیا د امریکا دریم ولسمشر، ټامس جېفرسن په اتلسمي پېړۍ کي راتازه کړه، خو عملي نه شوه. په ۱۸۸۱م کال کي یو فرانسوي میلیونر متي راونغښتلي چي پخپلې سرمایي یې جوړ کړي، ولي د مفلسی او ډول ډول ناروغیو او اژدها مارانو د را څرګندیدو له وجي سرې پښېمانه او کار په ټپه ودرېد.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په ۱۹۰۲م کې د امریکا متحدو ایالتونو د پاناما له هېواد سره یو تړون لاسلیک کړ چې د دغه کانال مالکیت او جوړول به امریکا ته سپاري. د ۱۲ کالو په ترڅ کې کانال د ۳۸۰ میلیونه ډالرو په لګښت او د ۵۶ زره کارګرانو او انجنیرانو د وینو او خولو په تویولو سره جوړ شو. د الجزیرې ټلویزیون لیکي چې د دغې پروژې په جوړیدو کې د پنځوسو هېوادونو وګړو برخه واخیستله او په بهیر کې یې ۲۲ زره کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

په ۱۹۱۴م کال کې د امریکا له خوا جوړ شوی دا کانال، په ۱۹۷۷م کال کې ولسمشر جیمي کارټر د دوه اړخیزه تړون له مخې اعلان وکړ چې په ۱۹۹۹م کال کې به د هغه مالکیت او بشپړه اداره د پاناما هېودا ته سپارل کېږي؛ ولې د بهرني ګواښ په مهال به یې د دفاع حق له امریکا سره خوندي وي. دغه کانال چې آتلانتیک یا اطلس سمندر له آرام سمندر سره نښلوي، ۸۲ کیلومتره اوږدوالی لري. په ځینو ځایونو کې یې بَر ۱۵۰ مترو ته راکمیږي او په همدې سیمو کې یې ژور والی مازې ۲۶ متره دی.

د نړی د ۱۷۰هېوادونو ٪۶ سوداګریزې چارې د همدې کانال له لارې ترسره کېږي او دلته ۱۰ زره مسلکي او اړونده پرسونل کار کوي. هرکال نژدې ۱۴ زره بېړی له دې کانال څخه تېریږي چې د بار شوي سامان بیه یې د اټکل له مخې ۲۸۰ میلیارده ډالره ده. پخوا به له نیویارک څخه سانفرانسیسکو ته یوې بېړی ۲۱ زره کیلومتره واټن وهلو، خو د دې کانال له برکته دغه واټن ۸ زره کیلومترو ته را لنډ شو. د پاناما ټول نفوس څلور نیم میلیونو ته رسي چې ۱۵ زره یې مسلمانان دي. د العربیة چېنل وایي په ۲۰۲۴م کال کې پاناما د کانال له مدرکه پنځه میلیارده ډالره ګټه ترلاسه کړې چې د دې هېواد د کلنۍ بودیجې ۲۳ سلنه ده.

د ولسمشر ټرمپ د دغو څرګندونو په مقابل کې د پاناما ولسمشر، هوزېه راول مولینو وایي: « د پاناما کانال، هره لوېشت د پاناما هېواد ملکیت دی او تل به همداسي وي». ټرمپ د خپلې رسنۍ (Truth Social) له لارې نوموړي ته لنډ ځواب په دې جملې سره ورکړی چې: «ګورو به!»

---------------------------------

یادونه: که دوستان وخت او علاقه لري چې د لیکوال ملکزي نوري مقالې، خېرنې او ویډیوګانې وګوري، نو د هغه فیسبوک او د یوټیوب چینل ته دې په دې پته ورشي: Wali Malakzay



[د لیکوال نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ](#)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ